ژباړه: سمسور ودان ۲۰۲۳/۰۱/۱۴

# اولاد اخیر هم اولاد وي که نه؟!

یو ماشوم په پخلنځي کې بوختې مور نه وپوښتل:

مورې! زه څنګه پیدا شوم؟

مور یې په موسکا ځواب ورکړ:

زویه! ما د ونې لاندې ایښي ګلدان کې خاوره واچوله او بیا مې اوبه هم ورکړې کړې، څو ورځې وروسته مې چې وکتل، نو له دواړو ته جوړ شوی وې.

ماشوم له پخلنځي ووت، د دېوال کونج کې ایښی مات ګلدان یې راپورته کړ، څو لپې خاوره یې پکې واچوله، اوبه یې ورکړې کړې او د مرغانو د قفس څنګ ته یې کېښود.

ورځې تېرېدې، اونۍ ووته او ان میاشتې ته خبره لنډه شوه، خو له خاورو او اوبو کوم ماشوم جوړ نشو.

یوه ورځ د دېوال سیوري ته خفه ناست و، چې ګلدان کې یې څرکا واورېده. ورلنډ شو او ګلدان کې یې لاس ننویست، په دې وخت کې له ګلدان نه کوچنۍ چونګښه راووتله او په منډو یې پیل وکړ.

ماشوم یوې او بلې خوا ته ورپسې و، خو چونګښه یې نیولی نشوه. له ډېرې ستړیا نه د ونې سیوري ته ودرېده، له خپلو نازکو غومبریو یې خولې وچې کړې او په ډېرې بې وسی یې وویل:

«زړه مې غواړي چې ودې وژنم؛ خو څه وکړم؟ مجبور یم، اولاد اخیر هم اولاد وي که نه!»

ژباړه:

سمسور ودان

اګست۲۰۲۲



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ